اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون

د دارالانشا عمومي رياست

بشري سرچينې

د کارمونډنې لارښود

**دا اطلاعيه له لوستلو وروسته لاسليک او د غوښتنې فورم سره يو ځای يې تسليم کړئ:**

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون هغو غوښتونکو ته چې د ګمارنې ۸،۷،٦،۵،۴،۳ بستونو سيالۍ کې ګډون کوي خبر ورکوي، چې لاندې موارد په جدي ډول په پام کې ونيسي.

۱. محترمو غوښتوونکو د غووښتنې معياري فورم اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون له وېب پاڼې ( aic.gov.af ) او د اصلاحات اداري او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسيون تر لاسه کړئ، په پوره مسووليت او دقيق ډول يې پرته له د قلم چټلۍ ډکه کړئ. د اعلان د پای نېټې څخه مخکې خپل سندونه د لوړو زده کړو وزارت لخوا تاييد شويو سندونه، که رسمي دنده ولري د خلص سوانح د صادرېدو نېټې څخه يې شپږ مياشتې نه وي تېرې شوي، که خصوصي دنده ولري د قرار داد خط يې د اقتصاد ، اطلاعات او فرهنګ او ټولو دولتي ادارو پورې اړوندو ادارو تصديق کړي وي اړوند دفتر ته تسليم کړي.

١. هغه نوماندان چې خپل سندونه د برېښناليک له لارې را استوي بايد خپل ټول اصلي سندونه سکن او د يو (PDF) فايل په توګه چې حجم يې له (5MB) زيات نه وي را ولېږي.
٢. هغه نوماندان چې خپل سندونه نه سکن کوي او د موبايل په وسيله يې عکسونه اخلي او هره صفحه بېله بېله د برېښناليک له لارې را استوي کيفيت يې ډېر ټيټ وي، نو له همدې امله د منلو وړ نه ده.
٣. که چېرته کوم غوښتوونکی د ملکي خدمتونو د بستونو د ګمارنې په پروسه کې له واسطې او له نفوذ څخه استفاده وکړي د همغه بست د سيالۍ له پروسې څخه وبستل کېږي.
٤. که چېرته په سندونو کې غلط او د واقعيت خلاف معلومات درج شوي وي، غوښتونکی له پروسې څخه وبستل کېږي.
٥. هغه غوښتونکې چې تحصلي سندونه او تصديق کاپي يې د لوړو زده کړو تاييد ولري د غوښتنې فورم سره يو ځای کړي. هېڅ ډول تصديق، تحصيلي ستاينليک د پوهنتونو او لوړو موسسو سرتفيکټ چې د لوړو زده کړو وزارت تاييدي ونلري د اعتبار وړ نه دی.
٦. هغه تحصيلي سندونه چې له ۱۳۷۱کال څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې صادر شوي وي، د ۱۳۸۵۱۲۱۲۴ نېټې دلوړو زده کړو ۱۸۸ ګڼې مکتوب پر بنسټ ايجابوي چې په ياد وزارت کې بيا و ارزول شي.
٧. له سرحد څخه بهر تحصيلي سندونه، د دال سندونو په لرلو او د لوړو زده کړو وزارت په ارزونې او تاييد سر بېره د اکاډميکو چارو د انسجام رياست مکتوب هم اړين دی.
٨. د لوړو زده کړو وزارت لخوا د سرحدونو څخه بهر موقت تاييد شوي سندونه د اعتبار وړ دي، خو غوښتونکی مکلف دی چې خپل تحصيلي سندونه د مصاحبې تر پيلېدو مخکې د ذيصلاح مراجعو لخوا تصديق وکړي.

٩. ځرنګه چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو محترم رياستونه يواځې د تحصيلي موسسو له ثبت او راجستر څخه تصديق کوي، ځکه نو ايجابوي چې هغه محترم غوښتونکې چې له خصوصي پوهنتونونو او موسسو څخه فارغ شوي؛ د لوړو زده کړو خصوصي موسسې څخه د سند کاپي د فراغت له مکتوب سره يو ځای د غوښتنې فورم سره ضمه کړي.

١٠. هغه محترم غوښتونکي چې په دولتي ادارو کې په رسمي ډول دنده تر سره کوي يا يې مخکې تر سره کړي وي، يو قطعه د خلص سوانح نوې بڼه چې د اداري يا وزارت د واحدونو لخوا صادر شوی وي، د کار وروستي مرجع څخه د کاري تجربې سند په توګه د غوښتنې فورم سره يو ځای کړي. هېڅ ډول خلص سوانح چې د دوهم واحد او ولايت څخه صادر شوی وي د اعتبار وړ نه دی، مګر که د لومړي واحد يعنې وزارت يا اړوندې ادارې تاييد ولري.

١١. هغه محترم غوښتونکي چې په معتبرو نړيوالو موسسو کې يې دنده تر سره کړي وي. سندونه او کاري سوابق يې د همغې ادارې د بشري سرچينو د څانګې له تاييد وروسته د قرارداد کاپي سره د غوښتنې فورم سر يو ځای کړي.

١٢. که چېرته د غوښتونکي سندونه مشکوک وي له څېړلو او له اړوند بنسټ څخه يې د دقيقو معلوماتو له اخيستلو وروسته د موضوع د ښکاره کولو لپاره عدلي او قضايي ارګانونو ته وربېژني

١٣. ګرانو غوښتونکو د فورم د تسليمۍ په وخت کې پورته ياد شوي موارد په جدي ډول په پام کې ونيسئ، د سندونه کاپي بايد روښانه وي تر څو ښه ولوستل شي، پرته له دې نيمګړي ګڼل کېږي. د غوښتنې د فورم له تسليمۍ وروسته هېڅ ډول اسناد نه منل کېږي

په شرايطو برابر کسان کولای شي خپل سندونه دغه( hr.aic1398@gmail.com ) بريښناليک ته واستوي يا په مستقيم ډول يې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون د بشري سرچينو امريت ته په قلعه فتح الله، شيرپور سړک، څلورم کور ته تسليم کړي. د لا زياتو معلوماتو لپاره دغې (٠٧٨٩٦٠٥٩٧٣) شمېرې سره په اړيکه کې شئ.

نوټ: د غوښتنې فورم له دې ځای څخه ډانلوډ کړئ د يادولو وړ ده چې فورم پرته له چک ليست څخه نه اخيستل کېږي.

د غوښتنې فورمdocx.

چک ليست١١